پوهاند محمد بشیر دودیال/ جغرافیه

۲۰۲۲/۱۲/۳۱

# د مهترلام دښار پېژندنه
# معرفی شهر مهترلام

مهترلام ښار، د لغمان د ولایت مرکز دی چې په شمالي عرض البلد ۳۴ درجو ۳۲ دقیقو او ۳۲ ثانیو ۳۴ درجو ۴۷ دقیقو او نهه ثانیو او د ختیز طول البلد د ۶۹ درجو، ۴۸ دقیقو او ۳۸ ثانیو او ۷۰ درجو، ۲۱ دقیقو او د ۲۳ درجو ترمنځ پروت دی. د لغمان ولایت د افغانستان ختیځ کې موقعیت لري چې له کابل څخه یې واټن سل کیلومتره دی. دغه سیمه له څو غرونو او درو څخه جوړه ده، دغه غرونه په نهایت کې هندوکش سره تړلي دي، نو مهترلام ښار په هغې دره کې موقعیت لري چې د الیشنګ او الینګار دوو سیندونو ترمنځ پرته ده. د "مهترلام" کلمه د لرغوني آریاني ژبې له (Mirhrat+damana)څخه اخیستل شوې چې په اوستا کې Mirhrat مهر ته وایي او په damana کې d په L باندې بدل شوی اود( lam )شکل یې غوره کړی دی.






دغه لرغونی ښار معاصر وخت کې د افغانستان له نویو جوړو شویو ښارونو څخه ګڼل کیږي. مهترلام په ۱۹۶۴م. کې د افغانستان د هغه وخت په نویو ملکی تشکیلاتو کې د لغمان د تاریخي ولایت د مرکز په توګه غوره شو، خو دغه سیمه تر دې هم لازیاته لرعوني تاریخي سابقه لري. ځینو روایاتو کې د هغه تاریخ د نوح(ع) د توپان تر مهال پورې رسو ل شوی دی؛ دا ځکه چې د یوه روایت له مخې د مهترلام نوم د حضرت نوح(ع) د پلار له نوم څخه اخسیتل شوی، چې هغه(مهتر لمک) نومیده او نوموړی په خپله نبي و. ویل کیږي چې دغه سیمه دهغه د اوسېدو او دفن کیدو ځای دی، نو ځکه ورته هغه وخت مهتر لمک ویل کېده، چې د وخت په تېرېدو یې تلفظ کې بدلون راغلی دی. داسي هم ویل شوي دي چې غزنوي سلطان محمود د همدې عقیدې له مخې مهترلام بابا ته د درناوی وړ زیارت حیثیت ورکړ، هلته یې ښایسته بڼ، جومات او د اوبو ډنډ جوړ کړ او له لرې ځای څخه یې ورته ویاله وکیندله.

له تاریخی روایتونو برعلاوه؛ موږ په واقعیت سره د (مهترلام) نوم له تاریخي پلوه هم ډیر ښه څیړلای شو، دا ځکه چې : څرنګه چې لیدل کیږي د دغه نوم لومړی برخه کې (مهتر) کلمه ده چې

له (لام) څخه مخکې راغلي چې ده او د مشر او لوی په معنا ده. لام څو نورې معناګانې هم لري لکه: لام په پښه يې ژبه کې کلي ته وايي چې په دې توګه مهترلام د لوی کلي معنا ورکوي او دا په پخوا وختونو کې بې مناسبته نه وه، ځکه چې دلته ډېر خلک اوسېدل، تجارت پکې رونق درلود او ګڼه ګونه پکې وه. همدارنګه لام هغې ميوه لرونکي ونې ته وايي چې دلته په پسرلي کې راشنه کيږي او (لام) بودايي کشيش ته هم ويل کيدل او دې ټکي ته په پاملرنې سره چې پخوا وختونو کې لغمان يا لمګان چې د کابل د سيند تر غاړې پروت و او له کابل څخه پيښور ته لاره له همدې سيمې تيره شوې وه او په لرغوني وخت کې په ختيځ کې يو مهم بودايي مرکز ګڼل کېد. له امکان څخه لرې نه ده چې لام به دلته د معبد، مزدک او بودايي عبادتځايونو په معنا وې چې په همدې سيمه کې وو. يو کوريايي ګرځندوی (هوی- چاو huei-chao) په اتمه ميلادي پيړۍ کې د لامپاکه (لغمان) نوم اخيستی دی چې هلته بودايي دين لرونکي خلک اوسېدل. له نوموړي څخه مخکې چينايي زيارت کوونکي او ګرځندوی(سونګ ين) هم په ۵۱۸ م. کې ننګرهار ته رسيدلي و چې په هډه کې يې د بودا د معبد له زيارت کولو څخه وروسته د کيکالام (Kika-lam) مزدک ته راغی چې د علامه عبدالحی حبيبی په باور او غالب ګومان همدا مهترلام دی او دلته د بودا يو کوڅو(چپن ډوله جامه) په ديارلسو ټوټو کې او د شپاړسو فوټو په اوږدوالي د بودا يوه لکړه ساتل کيده. په دې توګه ويلای شو چې د لام کلمه په دغه سيمه کې د بودايي مزدک او طريقې معنا ورکوي.
له نهمې پيړۍ څخه وروسته له دې سيمې څخه مهمه سوداګريزه لاره تيريده، نو يو شمير سکهـ او هندو سوداګر او قوالان هم همدلته ميشت شول. همدارنګه د کاروانونو له لويو لارو لرې څه وړاندې يې، يوشمير نور کلي او آبادي ګانې وې چې د نفوسو او اقتصادي فعاليتونو له مخې د پام وړ وې. په ۱۹۷۰م. کال کې په دغه ښار کې د بريښنا دوه توليدوونکي فابريکې جوړې شوې او د مهترلام ښار د اوسيدو پروژه جوړه شوه او يو شمير نور زيربنايي تاسيسات هم يې پيل شول، خو د هغه مهال د کار ا و وسايلو د کمښت او ټيټ مالي قدرت له امله يې ډير پرمختګ ونه کړ.
په دې توګه له هغه مهاله چې د مهترلام ښار د لغمان ولايت د مرکز په توګه غوره شوی دی، يو ځانګړی اهميت يې پيدا کړی دی. دا ځکه چې دا ښار له يوې خوا ديوه ۱۸ کيلومتره سړک په واسطه د کابل-جلال آباد عمومي لارې سره نښتی و چې په دې ډول سره د يوه ډير ښه تجارتي موقعيت لرونکی شوی و او له بلې خوا د ښاري نقشې له مخې، د افغانستان په ختيځ کې دښارونو په منځ کې د يوې ځانګړې بڼې لرونکي ښار په توګه پيژندل شوی و.
له ۱۳۸۱ل. کال وروسته مهترلام ښه پراختيا ومونده، سړکونه يې ورغاول شول، تر الينګار او اليشنګ پورې سړکونه جوړ شول، د نويوښوونځيو ودانۍ جوړې شوی، کلنيکونه، درملتونونه او روغتونونه پرانيستل شول، د دولتی او خصوصی بانکونو څانګې فعاله شوې، مخابراتی سهولتونه پراخ شول، کرنه عصري شوه، د ښار شمال لويديځ ته يو نوی ښارګوټی جوړ شو او وروسته بيا په دغه ښار کې يو پوهنتون هم جوړ شو چې د لغمان پوهنتون ورته ويل کيږي. د دې ښار يو خصوصيت دادی چې په عمرانی چارو کې يې د دولت په پرتله، په خپله دخلکو پاملرنه او زيار ډېر د پاملرنې وړ دی.
په دغه ښار کې د کرنيزو توليداتو ( بادرنګ، رومی بانجانو، توروبانجانو، ګلپي، کدو، ليرو، پيازو، وريجو، مرچو، پوڅې، کبانو، غوزانو، کروتو، غوزانو او ګڼ شمير نورومحصولاتو) مارکيټونو ښه انکشاف کړی دی. دغه محصولات جلال اباد او کابل ته هم ليږل کيږي.
سره له دی چې زياتره اوسيدونکی يې له اقتصادی پلوه صرف يو متوسط حالت لري، خوله ډيرو کلونو راهيسي له معارف سره مينه لري. له پخوا وختونو تر اوسه، د هيواد په هرولايت کې زياتره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د معارف ښوونکي او ددفترونو ټيټ رتبه ميرزايان د  مهترلام اوسيدونکی وو. د مهترلام ښار اوسيدونکی راز کسبونه لکه ترکاڼي، پینګري، خیاطی، لاسي صنعت، کلالی؛ بیلابیلو هنرونو لکه موسیقی، ادبیات، رسامی او نورو کی ځانګړی استعداد لري. د هیواد د نامتو هنرمند، احمد ظاهر پلرنی کلی د همدې ښار شمال څنډه کي دی. اوس يې هم کور او ځینی خپلوان هلته شته او د احمد ظاهر د یو ورور مقبره هم همالته ده. دهیواد یو شمیر مشهور لیکوال او شاعران لکه بارق شفیعی، اسحق ننګیال، الفت، داکتر محمد حسن کاکړ او د طب نامتو دوکتوران همدلته روزل شوی او له دې ځایه یی شهرت ټول  افغانستان او آن نړی ته رسيدلی دی. تاريخی ځای یی د محمد شاخان بابکرخیل تاريخی کلا ده چی دی وروستیو کی بیرته ورغول شوه. مهترلام اوړی تود، خو ژمی معتدله هوا لری، شنو بڼونو يې  طبيعی ښکلا زياته کړی او بڼونو کی یی راز راز الوتونکی شته چی دهیواد نورو سیمو کی لږ لیدل کیږي.

دمهترلام د لازياتی ترقی او پرمختيا لپاره لاندنی قوی ظرفيت او مساعد شرايط شته:

- ✓ خواريکښ، ښه استعداد لرونکي  او  علمدوسته خلک،
- ✓ مساعد اقليم او د دغه ښار شاوخوا د څلور فصله کښت امکانات،
- ✓ د اوبو زيرمي او جاری کافی اوبه( په دي شرط چي مديريت شي)،
- ✓ د ګمبيری په شان د کرنی د انکشاف لپاره يوه لويه ساحه چي د کونړ له سيند څخه يی د اوبخور امکان شته،
- ✓ کانونه  او د ځنګلونو فو ق العاده انکشاف،
- ✓ محلی تشبثات او د تجارت رونق.
- ✓

## معرفی شهر مهترلام در قاموس کبير افغانستان

شهر تاريخی  مهترلام، مرکز اداري ولايت  لغمان بوده که  دربين  عرض البلد ۳۴ درجه ، ۳۲ دقیقه و ۳۲ ثانيه و ۳۴ درجه ۴۷ دقیقه و ۹ ثانیه ی شمالی  و ۶۹ درجه، ۴۸ دقیقه و ۳۸ ثانيه و  ۷۰ درجه، ۲۱ دقیقه و ۲۳ ثانيه طول االبلد شرقی موقعيت  دارد.  ولايت لغمان در شرق افغانستان موقعيت داشته، که فاصله ی آن از ولايت کابل به يکصد کيلومتر ميرسد. شهر مهترلام دربين دامنه های دو کوه واقع شده که اين کوه ها شاخه های کوچک از سلسله هندو کش اند. دو دريای الي شنگ و الينگار در دو کنار اين شهر جريان دارد که بعد باهم يکجا ميشوند و بالاخره به دريای کابل ميريزند. کلمه ی "مهترلام"  ريشه در زبان باستانی  آرياني (Mirhrat+damana)داشته که در اوستا Mirhrat به معنای مهر بوده، ولی  در تغيير شکل damana حرف  d به L تبديل و شکل( lam ) را اختيار نموده است. اين شهر کهن  طی سالهای اخير و دوران معاصر ه يکی ازشهرهای جديداً تشکيل شده در افغانستان ظهورنمود؛ شهرمهترلام   طی تشکيلات تجديد نظر شده ملکی در ۱۹۶۴م. بحيث مرکز ولايت تاريخی لغمان قرار گرفت، درحاليکه قدامت تاريخی آن به ازمنه های خيلی سابق بر ميگردد. طبق بعضی از روايات   تاريخ آن به دوران توفان نوح(ع) ميرسد؛ زيرا طبق يک روايت کهن نام مهترلام  از نام  پدرحضرت نوح(ع) گرفته شده است،  و نام او(مهتر لمک) بوده است.  موصوف  خود نبي بود. طبق روايت ديگری؛  منطقه ی مهترلام کنونی محل دفن نوح (ع) ميباشد، که وجه تسميه مهتر لمک بنابر همين دليل است. بعد ها در تلفظ و شکل نوشتار آن تغيير رخ داده و به مهترلام تبديل گرديده است.روايتی نيز وجود دارد که  طبق اين عقيده(محل دفن نوح) سلطان  محمود غزنوي  به مهترلام بابا ادای احترام نمود و به آن حيثيت يک زيارت متبرک را داد،  در نزديکی زيارت باغ باشکوه اعمار نمود، يک مسجد را بنا نهاد و با کشيدن جوی آب يک حوض آب را نيز در جوار زيارت ساخت.

برعلاوه ی روايات تاريخی فوق؛ طبق تحقيق واقعيت ها بايد گفت که اصطلاح ونام (مهترلام) از دوکلمه ی (مهتر) و (لام) وجود آمده، که به معنای بزرگ، ارشد و کلان است.  لام  دارای چند معنای ديگر نيز است: لام  در زبان پشه يي به معنای قريه است، که  ( مهترلام ) را به قريه ی بزرگ ترجمه ميتوانيم. ازين ديدگاه اين نام بی مناسبت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده،  هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

نیست، زیرا در آن زمانها مهترلام دارای نفوس زیاد و محل تجارت و کاروبار های مختلف بود ، تجارت در آن رونق داشت و محل تقاطع راههای تجارتی بود. از سوی دیگر؛ لام عبارت از یک درخت میوه دار بوده که در هر بهار سال درین محلات برگ وشگوفه نموده وجلب توجه مینماید. همچنان (لام) به کشیش بودایي نیز اطلاق میگردید.
ازینکه لغمان یا لمکان در سابق درمسیر راه کابل- پشاور قرار داشت و دریای کابل از نزدیکی ان عبور مینمود، یک مرکز مهم بودایی نیز بود. پس به دور از امکان نیست که ازین لحاظ "لام" به معنای معبد، مزدک و عبادتخانه ی بودایي تلقی شود که درین محل وجود داشت. جهانگردکوریایي (هوی- چاو huei-chao) در قرن هشتم میلادي در نوشته های خود از (لغمان) تذکر داده و میگوید که در آنجا پیروان دین بودایي میزیستند. قبل از او سیاح وزایر چینایي (سونگ ین) در سال ۵۱۸ م. که از مهترلام به ولایت ننگرهار امروزی به معبد کیکالام (Kika-lam رسیده بود، و در منطقه ی (هډه ) این ولایت از معبد بودا دیدن نموده و به زیارت آن پرداخته بود، نیز از مهترلام یاد اوری کرده است. طبق تحقیقات تاریخی علامه عبدالحی حبیبی هدف از تذکرات هرو سیاح مذکور همانا شهر مهترلام میباشد، که یک ردا(چپن) بودا متشکل از سیزده پارچه و عصای بودا به طول ۱۶فت درهمینجا نگهداری میشد. پس به گمان غالب کلمه ی لام درین منطقه برای عبادتگاه و دین بودایي صدق مینماید.
طی قرن نهم میلادي مهترلام و در مجموع ولایت لغمان یکی از راهای مهم تجارتی بود، درهمین دوران یکعده تجار و بقالهای اهل هنود و سکهـ نیز درین محل سکونت اختیار نمودند. درمسافتهای نزدیک به کاروانسرا ها مردم به اعمار خانه ها پرداختند که باعث تجمع بیشتر نفوس ورونق تشبثات مختلف اقتصادی گردید. بعد ها طی سال ۱۹۷۰م. این شهر دارای برق و بعضی کارخانه های کوچک گردید ، به تعقیب آن طی پلان دولتی درشهر مهترلام بعضی پروژه های رهایشی تطبیق و بعضی تاسیسات زیربنایي نیز زیر کار گرفته شد، اما نسبت عدم بودجه کافی و کمبود وسایل این پروژه ها پیشرفت چندان نه نمود.
به این ترتیب؛ بعد از آنکه شهر مهترلام بحیث مرکز ولایت لغمان شناخته شد، اهمیت آن بیشتر گردید. زیرا؛ از جانبی این شهر با یک سرک به طول ۱۸ کیلومتر با سرک عمومی کابل – جلال آباد وصل شد، از طرف دیگر پیداوار زراعتی اطراف آن شهر مهترلام و عمرانات شهری آن درجمله ی یکی از شهرهای شرق کشور قد برافراشت.
بعد از سال ۱۳۸۱ش. شهر مهترلام انکشاف بیشتر یافت، سرکها ترمیم، و تا دو ولسوالی مهم یعنی الینگار و الیشنگ امتداد یافتند، تعیمر بعضی مکاتب ساخته شد ، یک شفاخانه ، تعدادی ازکلنیکها و درملتونهای دولتی وخصوصی افتتاح، شعبات بانک ایجاد، ، سهولتهای مخابراتی توسعه یافت، زراعت تااندازه ی عصری ، در شمال غرب شهر شهرک جدید اعمار و همچنان پوهنتون لغمان درین شهر افتتاح گردید. یکی از خصوصیات این شهر عبارت از آن است که در امور عمرانی آن رول، تلاش و زحمات مردم در مقایسه با رول دولت بیشتر است .
تولیدات زراعتی اطراف شهر مهترلام و درمجموع ولایت لغمان بنابر تولید محصولات مختلف زراعتی ( بادرنگ، بادنجان رومی ، بادنجان سیاه، گلپي، کدو، بامیه، پیا، برنج، مرچ، پنیر، ماهی، چهارمغز، قروت، وسایرمحصولات) رونق وانکشاف نموده است. این محصولات به شهرجلال اباد و کابل وسایر ولایات کشورنیز عرضه میگردد.
باوجودیکه اکثریت مطلق مردم آن دارای اقتصادی متوسط اند، اما از مدت مدیدی علاقه ی شدید به معارف دارند. از سالیان بسیار قبل اکثر معلمین و میرزایان دفاتر باشنده های مهترلام بوده اند. شهریان مهترلام درحرفه ها و پیشه های مختلف مانند نجاری، آهنگری، خیاطی، صنایع دستی، کلالی؛ رشته های مختلف هنرها مانند موسیقی، ادبیات، رسامی وغیره دارای استعداد فوق العاده اند. قلعه و قریه ی پدری هنرمند محبوب کشوراحمد ظاهر در حاشیه ی شمال مهترلام قرار دارد. اکنون نیز منزل پدری و عده ی از اقارب احمد ظاهر درهمین محل زنده گی دارند و مقبره برادر متوفی او نیز در همانجا است. شعرا و نویسنده های مشهور کشور مانند بارق شفیعی، اسحق ننگیال، الفت، داکتر محمد حسن کاکړ و چندین داکتر مشهور طب درهمین شهر تعلیم و تربیت دیده و بعد درسطح کشور وجهان درخشیدند.
ازجاهای تاریخی آن میتوان قلعه ی محمد شاخان بابکرخیل را نام برد که درین اواخر مجدداً ترمیم گردید. تابسان مهترلام گرم، ولی زمستان آن معتدل است، باغها و مناظر سرسبز زیبا یي طبیعی مهرتلام را دوچندان ساخته درباغهای مهترلام انواع پرنده گان زیبا وجوددارد که در بعضی نقاط دیگر کشور کمتربه مشاهده می رسند. آنچه بیشتر امیدوار کننده است، عبارت از موجودیت بعضی معادن، جنگلات و ظرفیت قوی تولید برق و توسعه ی زمینهای زراعتی ، خصوصا در دشتهای گمبیری است.
ظرفیت، امکانات وشرایط مساعد ذیل بخاطر انکشاف و بهبود وضع اقتصادی شهر مهترلام وجود دارد:

- ✓ داشتن مردم زحمتکش، بااستعداد و علمدوست،
- ✓ اقلیم مساعد و امکانات کشت چهار فصله در اطراف و اکناف شهر،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ

- ✓ ذخایر آب زیرزمینی و آب کافی روزمینی(جاری) بشرطیکه بهتر مدیریت گردد،
- ✓ پوتانسیل قوی انکشاف زراعت در دشت گمبیری، که میتوان منبع آبی انرا از دریای کنر تدارک نمود،
- ✓ انکشاف فوق العاده جنگلات و تفحص و استخراج معادن،
- ✓ تشبثات محلی و رونق هرچه بیشتر تجارت وسرمایگذاریها .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ